ير کروړ سوري دولسم سوه پنځوسم تلين

١٥٤ - ١٤٠٤ هـ ق


آسماني نغمې او لاهوتي سرودونه

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبي



١٣٦١



آسمانی نغمې او لاهوتي سرودونه

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبي

خپرونکی

دافغانستان د علوموا کاډیمۍ

دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتوټولنه

کابل مجله

۱۳۶۱




Hamid

سریزه

دپنځوسو کلو را پدیخوا دپښتو ژبې او ادب په باب څیړنې او ګروېږنې کوم په دغو څیړنو کې ځینې داسې لیکنې او نوشتې دي چې پر تحلیل بنا دي او ځینې یې بیا پر تحقیق . زما د دغو لیکنو عمومي مسیر داسې دی چې د پښتو د ادب ، ادبي رجالو او ځینو کتابو په باب څیړنې او تحلیلونه لري .

زما دغه ډول څیړنې دپښتو د ادبي تاریخ پرځینو مهمو خواوو رنا اچوي . او ځینې تیاره ګوټونه روښانوي . زه دا نه وایم چې زما دغه څیړنې او ګرویږنې انتهایي دي ، بلکې دغه څیړنې یوه نوې لار پرانیځي او زموږ راینده ګان به زموږ د دغه لیکنې پسې بشپړې کړي ، کره او کوټه به یې سره بېل کاندي.

زما دغه لیکنې ځینې چاپ سوې او ځینې دیاد داشتو په ډول له ماسره پاتــه دي د دغو نوشتو یوه برخه په دې مجموعه کې راټوله سوې ده په دغو مقالــو کې ځینې په او سو کلونو کې کښل سوې او ځینې یې داسې دي چې پخوا کښل سوي او په متفرق ډول خپرې سوې وي ، چې تر بیا کتنې و روسته له نورو مقالو سره یو ځای په دې مجموعه کې راغونډې سوې ، ګوندې وي چې زموږ د ادبي څیړنو له پاره مهمې ثابتې سي .

ددې مجموعې په چاپ او ترتیب کې زما دزلمي شاګرد ګران هیواد مل هڅه مشکوره ده ، چې دده په همت دغه مجموعه ترتیب او ما ته راو سپارل سوه چې بیا یې وګورم او له سره نوې نظر پر و کړم . دافغانستان دعلومو اکاډمي په تیره د کابل مجلې د کارکوونکو زیار هم ددغه اثر دچاپ او نشر پــــه څه کې دیادونې او کوروداني وړ دی .

عبدالحی حبیبي جمال مینه - کابل ۱۵ - اسد ۱۳۶۱

فهرست

آسماني نغمې او لاهوتي سرودونه

چېرې چې ښکلا یو جاویدان فن او ښکلي آرټ پیدا کوي

ترنګ بهېږي ترنګ بهېږي غاړې ترغاړې

زمازړ ګي خو خپل لالي غواړي

د پښتونخوا په زړه کې چېرې د غزني له مجلله ښاره د زابل او بست پرخوا کاروانونه روان وو دلو یې لارې ترخنګ ترنګ بهېږي !

هو، ترنګ بهېږي مګر ډېر مرام بهېږي! پر دواړو خوا او وې د غنمو شنه کښتونه او ارتې مځکې په زرغونو شالو ښکلې شوې ښکارې ! لوی د ښتونه، هسک غرونه جګ جګ پوټې او لوړې لوړې غونډۍ د بادامو په ونو پټې دي او کله کله له دې شاخساره د بلبلانو خواږه ږغونه هم اورېدل کېږي .

دونوله بېخوڅخه درنو او زلالو اوبو چینې راوزي، په غړمبا غړمبا بهېږي آبشارونه سازوي، او په فضا کې په زړه پورې د جاویدان موسیقۍ انګازې خپروي !

په دې مځکو کې یو وخت د با با هوتك د شعر خوا ږه اوازونه اورېدل کېده، د لته د توخو دد رنې کورنۍ غښتلو حکمرانانو د عدالت او امن

بساط غوړولی وا و هم له‌دې کورنی څخه مېرسن نازود حاجی میرویس‌خان سوررا ووته ،چی پخپله غېږ کې یې‌داسی پښتـون اوآزا د یخوا ه مېړه ورو زه! دلته د کلات پرلوړه غونډئ شیخ‌متی خلیل ښخ دی‌چی‌د پېښور له درنواو پیـا وړوخلیـلـو څخه‌د لـتـه را غـلی و ،اودتـر نـك پـر غـاړه به‌یې له‌لاهوتی ارغنونه خواږه‌او په زړه پوری‌سرودونه پښتنو ته‌اورول اودخدای دمینی سندری به‌یې‌دخپل جاویدا ن اوسوځند عشق په کیف‌اوحال کی ږغولې !

شیخ متی دپښتنو هغه خدایی شاعردی ،چی دجمال اوښکلا سرارد شعر په ژبه څرګندوی ،دی نړئ ته‌په‌دا سی نظرګوری ،چی‌د پخوعارفانو او لاهوتی رجالو په‌څېر هرڅه ښکلی وینی اوکوم‌وخت چی دترنك پرغاړه ناست وی‌شاو خوا لوړی ژوری ،کښته پورته ،غرونه رودونه‌،دښتونه او میرې‌تږول‌دیوه ابدی اوځلاند جمال په‌وړانګوکی غرق ګنی، دی ښکلا وینی،ښکلا اروی، ښکلا حس کـوی ،دښـکلا تجلیـات پر کائنا توطاری اوساری ګوری،اوکله چی شپون دیوې شنې اوزر غونې غونډئ په‌لمن کی خپله شپیلی ږغوی‌یایو سین ځلمی په‌زهیر ږغ دمینی سندری لولی ،نوشیخ متی په‌دې تږلوکی‌دحسن هغه مبداء ته‌انتقال کوی ، چی دجمال سرچینه ده،اوهرآرټ او بدیع صنعت‌هم له دغی ښکلا څخه رڼا اخلی او تحقق‌مومی .

وایی‌چی شعر دښکلا احساس او دجمال ترجمانی ده ،مګر هرشاعر با یدستر ګور وی ،دښکلا دآ ثار و په لیدلو او تشخیص کی ځیروی دی باید دهرښکلی‌اوجمیل په‌ټا کلو او تماشا کی دنظر دقت ولری او په دې کارکی دخاص لیاقت‌خاوندوی داجمالی احساس اوښکلیزاستعداد عا م او دهرچاپه برخه نه وی فقطد مینی‌مستا ن او دښکلالبوالا ن غـواړی ،چی دلته څه وو ینی څه واروی او څه تماشاکړای شی بلخی جلال الدین همدامقام په‌څه مستی او جمالی لیاقت بیانوی .

باده درجوشش گدای جوش ماست
چرخ درگردش اسیر هوش ماست
باده ازماست شد، نی ماازو
قالب ازماهست شد، نی ماازو
برسماع راست هر تن چیر نیست
طعمهٔ هرمرغکی انجیر نیست
نوراودریمن ویسر وتحت وفوق
برسر وبرگردنم چون تاج وطوق
آینه کز زنگ آلایش جداست
پرشعاع نورخورشید خداست
روتوزنگاراز رخ او پاك کن
بعد ازآن نورراادراك کن
(مثنوی مولوی)

شیخ متی دکلات په ښکلی وادی کی دګلا نوزرغون توب دبېدیا جمال او دترنك سیلاب او دطبیعت ښکلی مظاهر ګوری، او دجما لی شعر صنعت‌داسی ایجا دوی :

جنهی زرغون که‌په‌بېد یادی
دبر بڼ خواته په‌خندادی
ترنك چی خړدی په‌ژړادی
داتهول اغیز دمینی ستادی
تهوله ښکلل دی ستا له‌لاسه
ای دپا سوالو پاسه پاسه !

دپسرلی په‌مسیحا یی نفس، وچ غرونه زرغونیږی، نسیم سحری دژوندانه نوی موجونه پیدا کوی، دلمراوسپوږمی جمال کمال ته‌رسیږی، دا

ښکلی مناظر دیوه عادی انسان په نظر کی کوم اهمیت نلری ٬دعوامو ستر گی د دې دستگاه ښيگنې او ښهانی نشي درك کولای ٬یو عادی سړی چېواښکی اولور راواخلی او زرغونه‌واښه او ښکلی گلان دخپلې غوالپاره ریبی٬ هغه نه‌ښکلاوینی ٬او نه دپسرلی دوږمو عطر حس کوی .مگر چیری چې‌ښکلا وی ٬او دښکلا لیدونکی ځیری ستر گی‌وی ٬هلته‌داسی یو جاویدان آرټ تخلیق‌کیږی :

که‌لمر روښانه مخ يې‌سپین‌دی یادسپوږمیه تندی ورین دی
که‌غردی ښکلی پر تمین دی لکه هندا ره مخ دسین دی
ستا دښکلا داپلوشه ده
دایې یوسپکه ننداره ده!

دلته لوی‌غرونه زرغونبړی دژوندوږمې پکی چلېږی
بو را وی شا وخواکړیږی سترگې لیدوته یې هینبړی
لو یه خا ونده !تـوله ته یې
تل دنړۍ په ښکلیده یې !

ښکلا یوز پړنده اوجاویدان مبدأ فیاض لرې دزمان او مکان په‌مسیر کی‌لکه دبر یښنا گرځیدو نکی او تیریدونکې څپې دښکلا تجلیات گرځی را گرځی‌او خپل کمال ښیي ٬داجمالی‌او تجلیاتی سپر او دوران ٬دنړی پر مخ یوه‌تماشاجوړ-وی او هم دغه ننداری دی چی دعا رف شا عر سترگی‌ورته اریا نی وی‌ا و ابن فارض‌مصری عارف ناري و هی چی«زدنی بفرط الحب فیك تحیرا »ا و شیخ ستی دارنیاا و ښکلا او تما شادشعر په‌ژبه داسی خر گندوی :

خاونده ! ښکلی ستاجما ل دی ښکاره یی لور په‌لو ر کمال دی
که‌ورځ ٬که‌شپه که پېړۍ ٬کال دی ستادقدرت کمکی مثال دی
ستا دلو رو نو یوه‌رڼا ده
دلته چی جوړه تماشاده!

ښکلا پخپله یوه لایتنا هی او بې پایه حادثه ده څوك چې نه‌ورته ګوری‌، د هغو پرستر ګو تپه تیاره د ه ،دوی جمال نه پیژنی، ننداره نه‌وینې اوله دی زړه‌خوځوونکی تماشا څخه محروم وی . مګر د عارف ستر ګی د رنې هند ا ر ی په دود هر څه پخپل زړه کی تصویر کوی او داسی حسا سی وی ،چې په هرشی کی جمال‌و ینی، اوپه‌شاعرانه‌تعبیر یې هرشی‌د ښکلا ځری‌وی‌دی‌دغه‌لاهوتی‌اوسماوی جمال ته چې بل هیڅ جمال ته‌ورته ندی ځیر کیږی ،خود لته هغه پخپله‌نو ع کی واحدوی او بل مثا ل او څیر نلری :

جما لك‌لا یقاس الی جمال   وقدرك جل عن درك المثال

دلته نو دده ستر ګی داسی جمال سنجی شی ،چې بالاخره‌هیڅ‌شی بدنه‌و ینی‌ا ووایی

ازبسکه دو دیده‌درخیالت دا رم   درهرچه نګه کنم تو یی پندا رم

شیخ متی هم‌دعشق‌شپیلکی له‌غرو څخه‌اروی هر شی که‌وورِوی که‌غټ‌دده‌په نظر کی دجمال ځری دی ،دنړۍ سمې په‌سینه کی ګنهی،او په‌دغو ننداروکی داسی دکلماتو او و ینا ښکلا پیدا کوی :

په‌غرو کی ستادعشق شپیلکی‌دی   ددی‌نړۍ په‌عشق سمی دی
که غټ ، که‌وو ړکه‌پنه‌نری‌دی   ستادجمال ځری‌هر شی دی
چې پر دنیاسی ستر ګی پرې سوې
ستا د جما ل په نند اری سوې

دښکلا په‌دې نندارتون کی شیخ متی دپخو عارفا نو په‌څیر ،په‌تماشالګیادی دتجلیاتو په‌رڼا کی محودی، مست دی ،شید ادی او دمینی څپو لاهو کړی‌دی ،خوددی کیف او حال پای یوه دایمی ژړا او حزین فریاددی ،کله‌چې‌دی دخپل مبدأ په یاد کی لو یږی‌او له هغه جمالی فیاض منبعه بیلتون حس‌کوی نود هرمهجو ر پر حال‌ژاړی او دهرغمجن په‌غاړه‌ورسره‌ر غیږی:

بیلتانه‌په غم شریك کړ م دغمجنو   دهرچاپه غاړه ژاړم لګه نی

دبلخ اوقونیی قلندر دغه بیلتون‌لیدلی‌وچې ویل به‌یې :

نې حدیث راه پر خون میکند قصه های عشق مجنون میکند

هر که او از هم زبانی شدجدا بینواشد گرچه دارد صدنوا

اوس نو وگوری ء چی دترنك دغاړو سترگو راو دردمن عارف شیخ متی په دې مقام کی خنگه په ژړ راژ اړی او دتماشاو ښکلاو نندارو سره دحسرت اوارمان په سوز و گداز کی بیانفیس ادب اووینا او کلام آرټ تخلیق کوی٬ او دخپلی پردیسی یادهم کوی :

زه چی خر گندپر دې دنیا سوم دښکلی مخ په تماشا سوم

ستا پرجمال با ندی شیدا سوم له خپلی ستی راجلا سوم

په ژړاژ اړم٬چی بیلتون دی

یمه پردیسی بل سی تون دی

داتون چیرې وا و څنگه و؟

ددې دلنو از داستان شرح هم دبلخ دآگاه او خداشناس درو یش له خولې واروی ء:

چونکه هرجزوی بجو یدار تفاق

چون بودجان غریب اندرفراق

گویدای اجزای پست وفرشیم

غربت من تلخ تر٬ من عرشیم

میل تن درسبزه وآب روان

زان بود که اصل اوآمد ازآن

میل جان اندرحیات ودرحی است

زانکه جان لامکان اصل وی است

شیخ متی خودجمال په نند ارومست ښکاری دغه لید نه او کتنه دی ښکلا د لایزال او فیاض مبدأ په یاد کی ژړوی هم .دی خپل بیلتون حس کوی٬ا وخپله پردیسی یې ژړوی ٬او هرهناره چی د غرو له شپیلیو اروی هغه د یوه عرشی اما غربت و هلی او پردیس روح نارې سورې گڼی او وایي:

پەلو یوغرو هم په د ښتو کی   پەلوی سهار پەنیموشپو کی
په غاړه ږغ او په شپیلکو کی   یادو یرژلو پەشپیلو کی
ټولستا دیا د نارې سوری دی
داستادمینی ننداری دی

دنړۍ پردی سپیره ډګر عارف او دزړه خاوندتل دغه‌خوندا وننداری‌اوتماشا- وی لری اوهم ددغی ښکلاپه مینه‌ښکای ادب اونفیس آرټ‌ایجاد یږی، خوظاهر- بینې سترګی داکیف اوحال نشی لیدلای او بیچاره شاعر تل دحق‌او ښکلا څرګندولوپه‌سجادله کې ګرم ګیږی‌نود آرټ اوصنعت‌دغه‌خلاق‌مزاج‌اودښکلا اوجمال‌د څیرو او روښانو سترګوخاوندبه تل دخپل زړه درداوسوی‌داسی ښکاره‌کوی چی :

درعشق تواز ملامت بیخبران
درجان وجگر خدنگهادارم‌من



دحمزه په غزل کی پښتنی عناصر

په‌او سنی پښتو شاعری کی که‌خوك کتنه کوی ،نو ضرورهغه‌ته‌حمزه ورپه یادیږی .حمزه پوخ اودروند سپین ږیری دی‌او دخیبر په‌زړه‌کی ژوندکوی چیری چی دپښتنو دتهذیب زړه هم دی .

دحمزه کړه‌وړه ،دده وینا ،راشه درشه ،او دژوندانه ټول مظاهر او دده‌شخصیت او فکر او هنر ټول دپښتانه‌دی زه په‌دې‌عصر کی هم‌دی‌دپښتو غزل استاد ،اودخوشحال او رحمان پرګدی ناست ګڼم .

دحمزه شخصیت‌او سیرت‌دپښتنو دزړه تهذیب او فکر یوه‌ژوندی نمونه ده‌ه‌دشرقی کلتور او دتاریخ ورکی رڼاوی دده په‌تندی کی بریښی ،دانسانانو داوسنی علم او فکری جریانه سره دحمزه‌فکری تخلیقا ت دتاریخ‌او روحانیت اوتصوف او پښتنوالی‌په‌پړونی کی نغښتی څی ،او دده دغه خصوصیات‌دی چی‌دهر فکری‌مکتب‌شاګردان‌حمزه‌او‌ده‌هنرخوښوی‌اوداسړی‌نن‌د پښتنویومسلم‌ادبی شخصیت ګڼل‌شی .

دپېښور په ادبی حلقو کی حمزه په‌درنه‌سترګه‌لیدل کیږی دهر فکر خاوند که نوی وی که زوړ ،که دترقی ادب پرخواوی ،که څه بل فکر ولری ، ټول حمزه دبزم مشر او دهنر استاد ګڼی ،زلمی دده احترام‌هسی کوی لکه زاړه !زاړه‌یی هم هغسی دروند ګڼی لکه زلمی .

حمزه پرژوندانه‌باندې‌دغایر نظرخاوند دی ،په اجتماعی مسایلو کې خاص

او پاخه فکر ونه لري .ماضي له اوس او آينده سره ښه نښلولای شي ٬شعر يې لکه نثر ٬ او نثر يې لکه شعر ٬خوږ٬روان٬ اغېزمن او د سهلو وړ دی .

په پښتو کې دحمزه آثار څه نظم دی څه نثرډېر دی ٬ بعضي يې چاپ او خپاره شوي هم دي .او دده آخرني کتاب غزوني څو کاله مخکې خپور شو٬دا کتاب دحمزه دهنر يعني دغزلي بهترينه مجموعه ده او څه نور اشعار هم لري.

زه دحمزه دهنر ښکلی او جامع مظهر هم د ده غزل گڼم ٬نور چې هر څه هنري آثار و لري ٬ټول دده دغزلي دبداعت تر سيوري لاندې راځي او د حمزه غزل داوسني پښتو ادب پر آسمان لکه روڼ ستوری داسې بريښي.

دحمزه غزل لکه روان سيند په نو يوز مزسو ورووروبهېږي .ظاهراًخاموشي اوسکون اومتانت لري ٬خو په باطن کې يې دطوفانو غوندې موجونه پراته دي الفاظ يې نرم او ملايم اومتوازن دي . خو معاني او مطالب يې خوځوونکي دي او د پښتنو دفکر او تخيل غونډ او کره مواد پکې راټول وي .نوځکه دحمزه هنر دپښتني فکر مظهر دی او په عاشقانه مضامينو کې هم دغسې جوله ښکاره کوي .

وگوری ء په دې غزل کې څونې د پښتني فکر عناصر سره يوځای سوي دي:

سوی مې نظر لکه پتنگ ليدلی دی

ښه دشمع رو يو مې قلنگ ليد لی دی

نن درقيب ستر گو کې پيغام دصلحې ښکاري

ده پرون زمونږ د ستر گو جنگ ليد لی دی

ستر گې د ی چې غشي گر توی زما نظر ته

تاد پښتنو ز لميو جنگ ليدلی دی

تاله يم راغلی هغه تهوې کهٔته نه وې ؟

څوك خومې شايد چې ستاپه رنگ ليدلی دی

لاس دی صراحی ته داسی کم ولی ساقی ځی ؟
چرته کوم زاهد دې په زړه تنګ لید لی دی

دعشق په دنیا کی تکبر او ځان ځانی نه ځا یبری ، مین تل دمینی په سوز وګداز کی دمعشوق پر درګاه یو متواضع نیاز من وی ، مګر دحمزه په عاشقی کی دپښتنی خودی مظاهر داسی ښکاری :

ماکوزورته لیمه کړه، زما سرنه ټیټیده
شاید چی په الفت کی هم افغان پاتې کیدلم

په یوه بله غزله کی خپل عشق ته دسر کوزی داسی پیغورور کوی :

داسر کوزی پښتونه عشقه ولی ؟
ستا دز لمو هغه بګړی څه شوې ؟

دحمزه هنری مضمون آفرینی دپرځله قومی او پښتنی جوله لری، کله چی دعشق دترخواو دمعشوق دجفالپاره چاره لټوی ، نو هم پخپل قومی ژوند کی دهغه لپاره داسی علاج مومی :

ستادتر خو به داعلاج وی چی په کور در شم
ننګ دپښتو به دی مبلمه ته کړی خوږې ستر ګی

په دې ډول دحمزه په غزل کې دخپلې قومی دنیا نقشه کښله کیږی، دده تخیل اصلی محور او قالب هم دغه پښتنواله ده ، دهنر په تخلیق کې اصلی مساله هم خپل قومی دوداوجا ل دی :

دهغه ستر ګو پښتنو خبری
څنګه درنې وی ددر نو خبری ؟
داوستری ژوندی مبارك شه مینی !
زده چی اشنا کړی په لیمو خبری
زاهده! پر یږده د تسپو خبری
کوی ما حول دزولنو خبری

درنه‌به وانوړمه پوی شوې که نه ؟

درته می وکړې په پښتو خبری

دابو کښېدلی هوسی ستر کی د تا

وکړی ناڅاپه دمزرو خبری

دحمزه زړه‌ته دلا سه‌ورکوه !

دادی ارمانه !دزلمو خبری

او په پای کی دحمزه یوه‌بله غزله هم‌راوړم :

تل به‌په‌لارد سپړنوسره ځم — یمه پښتون د پښتنوسره ځم

دملیت نمره!دپرخی په‌څېر — ستاددې شوخوپلوشوسره ځم

داچی خردهم په‌ملت ځاروی — زه‌د هدد اسی لپونوسره ځم

پام کوه زه هغه نظرنه‌یمه — چی به‌په دود د سپېلنوسره ځم

وایی اغیار چی ددوزخ ژبه ده — زه‌به‌جنت ته د پښتوسره ځم

راستښدی چی نشی وخت خونه یم — خودحالت دتقاضوسره ځم

کړمه جهان چی دپښتون‌زلمی — دخپلو پېغلوحوصلوسره ځم

وړم مستقبل ته‌دماضی روایات — زه‌دخپل‌حال دولولوسره‌ځم

خوچی راغونډ‌په یوسر کزیې نکړم — هری تپې ته دجرگوسره ځم

حمزه‌سفر که دحجازوی نوهم

زه دپښتون د قافلوسره ځم

په پښتو شاعرۍ کې استازي

دا یشیا د شاعرۍ یو ډیر په زړه پورې توك هغه مضامین دي چې شاعر یې د عشق په دنیا کې د مقاصد له پاره پیدا کوي .

د مینې په نړۍ کې استازي ډېره درنه وظیفه لري او دي تل د مین د دردناو سوي او نریو احساساتو حاصل وي .

فارسي شاعرانو هم د قاصد او نامې په باب ډېرې مضمون آفریني کړې دي او د شاعرانو دیوانونه په دغه باب کې په ښکلوا ونو مضامینو ښایسته شوي دي

مثلا یوه شاعر خپلې ناري او غلبلې دقاصد په توګه استعمال کړې خو هیڅ-
اغیزه‌یې ونکړه نو یې په عوض کی اوښکی پسی و استولی :

اشك را قاصد کویش کنم ای ناله بمان !

زانکه صد بار برفتی اثری نیست ترا

مګر اوښکو هم دغه کار ونکړای شوای ځکه چی یو دریاب ځنی جوړشو او د
عشق لاری یی بالکل خړوبه کړه دلته نو شاعر مجبور شو چی خپله نامه د ماهۍ
په وزرپوري و تړی او په دغه دریاب یې کې لاهوکی :

بعداز ین نامه خود بر پر ماهی بندم

که ره عشق تو پر آب شد از دیده من

جهانګیر د هندوستان پاچاد ګل پرپاڼی خپله نامه لیکی او وایی:

مانا مه ببرګ ګل نوشتیم

شاید که صبا باو رساند

اختری یو هراتی شاعر دخپل مکتوب له پاره پروانه قاصد کوی ، ځکه چی فقط
همدغه پتنګ کولای‌سی‌چی‌دزړه‌سوی‌نقل کاندی:

عاقبت مکتوب ماراسوی او پروانه برد

طاقت سوزدلم بال و پری دیګر نداشت

پخوا به‌داوسنی طیاری پرځای مکتوبونه کوترو وړل او په‌دغه زمینه‌کی
یوه‌شاعر داسی مضمون آفرینی کوله :

شب که‌دردل رقم نامه دلبر می شد

دیده هر قطره که‌میریخت کبوتر می شد -

صائب پخپله د مکتوب هره لیکه شهپر جبریل ګڼی :

هر سطر کارشهپر جبر یل میکند

این نامه رابیال‌کبوترچه حاجت است

په عربی شاعری کی اکثراً نسیم د قاصد وظیفه اجرا کوی او دغه لطیف عنصر داوسنی پوسته رسوونکی کار کوی . یو شاعر وایی :

یاریح ! اذا تیت دار الاحباب وقت السحر

قبل عنی تراب تلك الاعتاب واقصص خبری

په پښتو شاعری کښی هم دغه مضمون په لطیف ډول او د محیطی تخیله سره ونډل کیږی .

مثلا یوه پوونده پیغله چی کیږدی یی دلو یو غرو په لمنو د پسرلی د ګلونو په سنځ ګښی ولاړه ده دشپی دهمز ولو په یادله کیږدی څخه راوزی او ګوری چی سپوږمی خپلی سری پلوشی د بیدیا پر رنګینو ګلونو او راغونو باندې غوړولی دی دغه ارمانجنه پیغله سپوږمی داستازی په توګه د همزولو کیږدی ته ورلیږی اود اسی وایی :

ارمان ارمان ! سپینی سپوږمیه !

سلام می وروړه د همزولو ترکیږدیه

خوشحال خان چی د هندوستان د مغلی امپراتور په لومه کی نښتی و هلته یی خپل وطن او دلنډی سین دغاړې سرای او خیر آباد ور په یاد یدل، د وطن مینه د هر پښتانه په زړه کی غوړځنګ کوی نو خوشحال خان هم د نسیم په لاس خپل سلامونه داسی را استوی :

که ګذر په خیر آباد وکړی نسیمه

یادی ګښت وشی د سرای د سیند په سیمه

اباسیند وته ناره وکړه په زوره

ولنډی ته وینا و وایه حلیمه !

ګوندې وی چی بیا می ستا سی جام نصیب شی

په ګنګا جمنا به نه و وله قدیمه

خدایه زړه می په وصال د هغو خوښ کړه

دا چی اوس و رځنی لیرې دی دوه نیمه

عبدالقادرخان ختټک هم‌له نسیمه سره دزړه خواله کوی او دوصال زیری ځنی غواړی او داسی وایی:

زه دې تل وینم و زان دسحر باده
په مقدم دې شی سینه دغم جن ښاده
چی یی‌لاس‌ددلاسا په تندی کښیږدی
قراری دبیمار وشی له‌فریاده
چی ترمنځ دقاصدانو لارې بند شی
پیغام یارته‌دیار راوړی له‌هیواده
دوصال په‌زیری هسك عبدالقادرکړه
پری ایستلی دی هجران له‌اده باده

کاظم خان شیدا خو په کلو کلو دوطن په‌هجران سوځلی و. او دپښتو-نخوا دغه خوشنوا بلبل دراسپور په تورتم کی‌پروت و،دی هم‌دنسیم لمنی ته دقاصدی لپاره‌لاس وراچوی او داسی یی سرای یعنی خپل وطن‌ته‌رالیږی:

نسیمه! ورشه دسرای سوادته
له‌هغه پسه افضل آبادته
سلام می‌وکړه په‌دواړو لاسو
درو دیوارته گل وشمشاد ته

بیانوله نسیم صبا څخه داسی یودارمانه‌ډك خواهش کوی :

چی گذروکړې صبا دسرای په‌لوری
اواره بلبل یی یاد په گلزمین کړه

دقند هار دتلو کان ملاحسن خو هم دمینی په‌ارمانجنه نړۍ کی خوږمن زړه او سوځند احساس لری ، دی هم نسیم ته‌دقاصدی له‌پاره داسی نیاز کوی :

دسحر باده ! خوشبو **نسیمه!**

سلام می یو سه دیا رتر سیمه
و رته می عرض کړه دخد ای لپاره
په سرت ایری شوم په زړه دوه نیمه

احمد شاه بابا دشا هنشا هی دعظمت سره دعشق دلارې لهدرماند گانو څخه دی د دې لاری دپری کو لو لهپاره تګ و دو کوی مګر پو هیږ ی چی لاس و پښی دی ځای ته نهرسیږی نو زړه لهتېره را باسی او دقاصددرنه وظیفه و رسپاری ، داسی و ایی:

که می لاس و پښی و تاته نه رسیږی
دغه خپل زړه بهمرغه کړم ستاپر لو ری

پوهاند عبدالحی حبیبی





دافغانستان په ځواد بي او علمي کورنۍ

لکه د اسلامي عربي خلافت عباسي، سیاسي بنیاد چې دخراسانیانو په لاس ایښودل سوی دی دغسې هم په عباسي دوره کې تر ۱۳۰ ه وروسته دخراسان خلکو د اسلامي دنیا په علمي غورځنګ کې د ونۍ لویه برخه اخیستې ده، چې حتی دځینو اسلامي عقلي او نقلي علومو اصلي راویان او بانیان هم دغه دخراسان خلک دي.

داسلام دراتګ په وخت یعني په لومړۍ پیړۍ کې دد ې ځای خلکو په خپل منځ کې قدیم علمي او فرهنګي میراثو نه درلودل مثلاً رتبیل دزابل یوه پاچا دهارون حضورته دخپل دربار یو منجم لیږلی و او دالبیروني په قول او ګرمه بوت نومی عالم دکابلشاه اننډپاله په دربار کې ؤ چې د شکهت پرت په نامه ئې یو دنجومو کتاب کښلی و.

خراسان ډېرې غټې کتابخانې هم لرلې او داسې وایي چې دمرو او نشاپور کتابخانې داسې مشهورې وې چې له لیرې به خلک مطالعې ته ورته راتلل او دغه کتابخانې تر اسلام دمخه زمانې څخه پاته وې، وایي چې عتابي عربي شاعر درې واره خراسان ته ددې لپاره راغلی ؤ چې دلته نادر کتابونه وګوري او چې عتابي دغه نادرې ذخیرې ولیدې نو ئې وویل:

عربي ژبه خو یوه تکړه ژبه ده مګر معاني خو ډېر دعجمو په کتابو کي دي داروایات ښکاره کوي چي دلته زموږ په وطن کي یو علمي ښه ذ هنیت موجود و. او کله چي اسلام راغی نو دخراسان خلک هم علمي حرکت ته تیار وو او داسلامي علومو په روزنه کې یې ډېر کار ونه کړي دي چي زه یې یو څو علمي کورنۍ در پیژ نم:

آل شاکر:

موسی دشاکر زوی دخراسان له خلکو څخه وچي په ځواني کي یو لښکری او دلاورسړی ؤ ده هندسه زده کړه او په دې علم کي خوراماهر سو ددهدری زامن په بني شاکر مشهوراو نومونه ئې محمد- احمد- حسن وو چي دمامون عباسی خلیفه په بیت الحکمه کي تربیه سول.

لومړی زوی ابو جعفر محمد چي په ۲۵۹ ه کال مړ دی په هندسه او نجوم او اقلیدس او المجسطي کي لوی استاد ؤ او دغه درې سره وروڼه داسي پوهان وو چي تل به ئې د علم او عالمانو پرورښت کاوه او په دې لاره کي به ئې ډېری پیسې خرڅولې چي په یوه میاشت کې به تر ۵۰۰ دیناره رسیدې دوی په هندسه او علم حیل او حرکاتو او موسیقي او نجوم او ریاضي کي ډېر کتابونه تالیف کړل او احمد په علم حیل کي دونې استادؤ چي هیچا سیالی نسوای ورسره کولای او هابـل د ریم وروړ حسن په هندسه کي وتلی و، او ډېرې مسئلې ئې پکي کشف کړې وې لکه داچي زاویه ئې پر درو مساوي برخو ویشله یا به ئې دوه خطونه په دوو متوالي خطونو کي کښل چي په دغه وسیله به ئې نور مسایل حل کول.

دآل شاکر له مولفاتو څخه ابن ندیم پنځلس کتابونه در یاضی او هندسې په مختلفو فروعو کي ذکر کړي دي دګوستاولوبون په قول: مامون خلیفه محمدبن موسی ته امرورکړچي یوساده او عام فهمه کتاب په جبر و مقابله کي

ولیکی نودوی لوسړی پلا جبرومقابله په هندسه کی استعمال کړه .

او د کروي مثلثاتو دحل کولولپاره ئې داسیاشکال تیار کړل چیتر اوسه لاهم معمول دی. هم دوی دسیاراتوتقویمونه ترتیب او د بغدادعرض البلد ئې داسی وټاکه چی له اوسنی عرضه سره ئې فقط لس ثانیې فرق سته .او د غو دروو رونو په میکانیک یعنی علم حیل کیدونی شهرت وموندچیخلکو به د غه علم دبني موسی حیل باله او د وا تیکان په مکتبه کی یوه خطی نسخه سته چینوم ئې داسی پر کښلی دی:

« كتاب الحيل بنى موسى بن شاكر منجم ».

دفوات الوفیات دمؤلف په قول آل شاکرداسلامیخلافت پهمرکز بغداد کی دوهمه رصدخانه دبغداد لهپله سره جوړه کړه او هلته دستوروپه لیدنه کتنه بوخت سول او د لمراوسپوږمی دحرکاتو حسابونه ئې استخراج کړل.

آل اماجور:

بله علمی کورنۍ دجوزجان له آل فریغون ځخه وهچی پلار ئېاماجور د هرات او سېد ونکیو.ددهزوی ابوالقاسم عبداللهبن اماجور هروي پخپل عصر کی لوی عالم او د گټورو تالیفاتو خاوندی دی چی اکثر زیجونه ئې ابن ندیم او القفطی ذکر کړی دی، دی د ۲۰۰ ه په شاوخوا کی ژوندیو دده زوی ابوالحسنعلی هم تروتی (منجم)اودارصادعالمو او ډیر تاءلیفات لري چی د ۳۰۰ ه کال په حدودوکيیيعلمی پلټنی او کتنی کولې ،او ده د بطلیموس دقول پر خلاف داثابته کړه چیدمیاشتیفاصلهلهلمرهځخه کمیږي اودا یوه نوې نظریه وه چی دمیاشتی په حرکاتو کی پیداسوه.

علی بن عبدالله اماجور په ۳۰۶ ه دصفر او لوسړی خور په میاشتوکيدمشتري درجعت رصدوکړدمشتري -مریخ -قمررصد ونه ئېوکښل او دا ئې کشف کړه چیدلمرعرض پریوه حال نه پاتیږي .

دابن آدمی په قول دغه علی دېرش کاله په فلکی تحقیقاتو بوخت وو. دسیاراتو دطول اوعرض اختلافات ئې ضبط کړل او د قمر په طول کې یې شپاړس د قیقې د رصد او حساب فرق راویوست وا یی چې د قمر، اهتزازی حرکت هم ده په غور مطالعه کړ مگر کاملا ئې حل نکړ ای سو د دې علمی مشهورې هراتی کورنی لومړی پلارعبدالله، دغه کتابونه تالیف کړي و وچې ا کثرئې د نجوم او فلکیاتو دی لکه: زیج خالص-زادلمسافر- زیج مزنر-زیج بدیع -زیج السند هند-زیج ثمرات-زیج المریخ اونور...

دخالد مروزی کورنۍ:

بله مشهوره علمی کورنۍ ده چې خالد بن عبدالملک دمرورود وو. د اهغه ځکه ده چې اوس دهرات او میمنې ترمنځ دمرغاب وادی گڼله کېږی . پخوا په دغه سیمه کې ډېر ښارونه او آبادۍ وې او په اسلامی تاریخ کې ډېر دمرورو دخلک مشهور دي .

خالد په اسلامی دنیا کې مشهور راصدو، چې د ۲۰۰ ه کال په شاوخوا کې ژوندی واو کله چې په ۲۱۳ ه ماموں عباسی خلیفه دنجومو پوهان سره راټول کړل او دوی ئې درصدي آلاتو په جوړولو او دستوروپه ارصاددبغداد په شماسیه او د دمشق په جبل قیسون کې وگمارل په د غو پوهانو کې یو خالد مروزی هم و؛ چې یو زیج ئې ترتیب کړ او دغه ماموني رصد په عالم اسلام کې لومړی رصد دی چې یو خراسانی عالم هم پکې شامل ؤ د خالددوفات تاریخ ندی معلوم مگر د ماموں ترمرگه ۲۱۸ ه پوری لاژوندی و.

په دغه رصد کې دمځکې د کرې د دوراو ږدوالی په اسلامی دنیا کې لومړی پلاو ټاکل سو د وی د هرې جغرافی درجې طول ۵٦ میله و گاڼه او په دې حساب ئې د کرې ټول محیط ۲۰۴۰۰ میله حساب کړ چې داوسنی علمی تحقیق سره (۱۵۱) میله تفاوت لري او دا په اسلامی علمی دنیا کې یو لوی تحقیق گڼل سوی دی ځکه

چې دپخوانو حکیمانو او منجمانو تهاکنه‌له اوسنی تحقیق سره ډېر تفاوت لري
دغه خالد یو زوی هم د محمد په نامه درلود چې داخبار الحکماء د مؤلف په قول-
دخپل عصر لوی ترویتی واود ستوروپه یون ښه پوهېده .
د محمد زوی عمر نومېده چې دی هم د خپل عصر مشهور منجم واود خپل-
نیکه خالد په ډول ئې یو لنډ زیج لیکلی دی،دی پخپله‌هم لوی اسمان پلټونکی-
اودرصدخاوند و یو کتاب ئې دتعدیل الکواکب او بل ئې دصناعة الا-
صطرلاب المسطح په نامه کښلی دی.
له دغی لوړی خبړنی څخه تاسی ته داپه ښه ډول ښکاربږی ،چې په خراسان
کی داسلامی دوری دعقلی علومو پرورښت په ښه ډول سوی دی .،او اکثر
مشهور پوهان او حکیمان اوخېړونکی ئې دخراسان خلك وو، چی زه
دلته دیو څو نومیالو پوهانو نومونه اخلم :
میشی خراسانی دمرو وچی عربو ما شاءالله باله ٥ ٢ تالیفونه په فلکیاتو کی لری
ربن دمرو لوی معلم او دعلمی کتابو مترجم وچی په ٢٣٧ هو فات سوی دی
ابو معشر دبلخ لوی منجم چی اوس یې هم دوولس کتابونه موجود دی .
حبش حاسب هم دمرو رود و په ٢٢٠ ه کال مړسو ډېر د ریاضی اربا و نجومو
کتابونه لري .
جابر خراسانی د ٢٣٢ کتابو مؤلف و دی دکاسټك سودا کاشف دی او گو-
ستا ولو بونی یې ترلا وازیه دمخه دکیمیاپوهنی گڼی .
ابو العباس هم دخراسان دسرخس و ٢٣ علمی تالیفونه ئی معلوم دی.دریا-
ضی او منطق موسیقی او طب او فلکیاتو استادو .
داڅو تنه‌مادمثال په توگه ذکر کړل که نه‌وی په‌عقلی او نقلی علومو کې دخرا-
سان ډېر داسې استادان لرو ، چی د بعضو علوموموسسان هم بلل کېږي.

دپښتنو خزانې له مخې په پښتني کلتور کې دمور مقام

دافغانستان په قديمه انساني ټولنه کې له هغه وخته چې د قبل التاريخ دزمانو آثار ښکاره سوي، مورتل په احترام او درناوي ليدل سوې او داچې اوس مور دمورد ورځې په نامه يوه خاصه ورځ نمانځو، زموږ دتاريخ د زړو عنعنا تو سره ټينګ اړيکې لري.

دمور احترام په زاړه افغانستان کې دونيږ برو، چې پخوانو خلکو مور يوه ربة النوع منله، چې د هغې مجسمې دقندهار د منډی ګک او د پښين اودشمالي ولاياتو په لرغونو آثار وکې پيدا سوي دي، او د وی عقيده درلوده، چې دغه د خيراو برکت ربة النوع د مور دشفقت او پرورښت نمايندګی کوي او مور د خيراو بر کت وسيله ده. نو ځکه دنمنځني او پرستش وړ ده.

دغه د خيراو برکت ربة النوع وروسته داناهيتا په نامه داحترام وړوه، او ځکه چې اوبه او رودونه هم دانسان لپاره دژوند انه منابع وو، نو پخوانو آريا ئيانو داسی تصور کاوه، چې درودو او اوبو او کښت او کرنی ساتونکې قوه هم دغه مور ده چې اديتااوانا هيتا بلله کېده. او تر اوسه هم د پښتو او دری «ادې يعنی مور» له دې ريښې څخه راپاته ده.

په پخوانو آريايي کتابونو کی د ډېرو مشهورو ښځو او سندو نومونه راغلی دی چې په دوی کې دعلم او شعر او سياست خاوندا نې هم وې، لکه چې موږ په

رگو یداکی دخوتنو ښځونو سو نه پیژ نو ' چی له د وی ځخه د دې لرغونی کتاب سرو دو نه رانقل سوي دی.

په زردشتی د ین کی هم د ښځیمقا م لوړ و 'لکه چی ځینی و ختونه به دې ته دشا هی مقام هم سپارل کېد ه . د زرد شت مورد د غد و په تا ر یخ کی لو ړ نو م لري.او دافغانستان دلرغونی مد نیت په تشکیل کی دزردشت دروز لو په سبب ددې مو ر بر خه خو را لو یه ده.

په دغه و خت کی چی خلك په کو رنیو او خانو اد و کی سره تقسیم سو ل نو دهری کو رنی مشر هیو هادې و ه 'چی هغه ئې کدبانو بلله یعنی د کو ر نی مشره. ا و دغی مشری ادې ته ئې «زن پاذشاییها» هم ویله 'چی لکه پادشاه داسی و ه.

دزاړه افغانستان او خرا سا ن ښځی چی د حسن اواخلاقواو ښه مو ر توب په ګېڼو ښکلیسوی وې 'په ایشیا کی یې خو را شهرت د رلو د 'او هغه وخت چی عربی فاتحان دلته راغلل 'نو دوی له دې ځا یه ډ یری ښځی بو تلې 'چی د عر بی خلفاو و په دربارو کی داخلی سوې 'او داکثر و عربی خلفاو و مندی په دمشق او بغدادکی دغه خر اسانی مندی وې.

مثلاًمر اجل دبادغیسی استاد سیس لو رداسی ښکلې اومهذبه ښځه و ه 'چی هارون الرشید په نکاح کړه 'او ددې خراسانی مو ر په غیږ کی ماسون غو ندی علم اومدنیت پالو نکی و روزل سو .

په اسلامی دو ره کی مو ږ ډېری داسی میندی پیژ نو ' چی دوی په سیاست 'علم پالنه او دفر هنګ او مد نیت په روز نه کی لو یی بر خی اخیستی دی.مثلاًحر م ختلی دامیر سبکتګین لو ر ا و دسلطا ن محمو د خو ر هغه باتدبیره او سیاست مداره ا دې و ه 'چی په (۴۲۱ هـ) کـا ل کله چی سلطان محمو د پـه غـز نی کی و فات سو ' نو دې ادې ژ ر سلطان مسعود ته خط و لیکه 'او دایی تشخیص کړه چی دسلطان محمو د په زا سنو کی مسعو ددسلطنت وړدي 'ابو الفضل محمد بیهقي ددې خط مضمو ن داسې را وړی دی :

«واسیر داند که از برادر این کار بزرگ (سلطنت) بر نیاید،
و این خاندان را دشمنان بسیارند و ماعورات و خزاین
بصحرا افتادیم .
باید که اینکار بزودی گیرد، که ولی عهد پدر است. و مشغول
نشود بدان و لایت که گرفته است و دیگر ولایت بتوان گرفت...
و اصل غزنین است و آنگاه خراسان و دیگر همه فرع است .
تا آنچه نوشتم نیکو اندیشه کند و سخت بتعجیل بسیج آمدن کند
تا این تخت ملک و ماضایع نمانیم و بزودی قاصدان را باز
گرداند که عمت چشم براه دارد. »
(تاریخ بیهقی صفحه ۱۳)

دغزنی ښندو ترسیاست او جهانداری علاوه دعلم په روزنه کی هم غښتلی لاس درلود،
د(۴۲۰ هـ) په شاوخوا کی په دغه ښار کی یوه ادیبه اوسیدله، چی نوم ئي ریحانه
دحسین لور وه، دې ادیبې دابوریحان البیرونی مشهور پوهاند سره علمی روابط درل
او ددغی ښځی په غوښتنه او سپارښت ابوریحان په علم نجوم کی خپل دری کتاب
کتاب التفهیم و لیکه او داسی ښکاری چی دا یوه عالم پروره ادیبه وه.
(کتاب التفهیم ص ۱)

دغوریا نو په کورنی کی هم مندی روزلی سوی دي، چی له هغو څخه یوه
شاه ملک دمحمد بن سام لور وه، داملکه په جلال الدنیا و الدین سلطان الملکات
ملقبه وه، او ددې دپالنی او روزنی په غېږ کی منهاج سراج غوندی عالم او مورخ
وروزل سو، وروسته په ډهلی کی د هند قاضی القضات او لوی مدرس
سو. منهاج سراج وایی:
«و آن ملکه جهان این ضعیف را در حجره پادشاهی خود، چون فرزندان در پرـ
ورش پادشاهانه داشتی ...و در نظر مبارک او تربیت یافتی . »
(طبقات ناصری ۳۱۹/۱) .

دهنر او آرټ په پالنه کې هم دمند و برخه په خراسان کې وينو، دهرات د تيموري خاندان ځينې ښځې داسې وي، چې مدارس او معابد به ئې جوړول. د مشهد دحضرت امام علي بن موسی رضا (رض) دمزار يوه برخه د گوهرشاد په امر او مصرف جوړه سوې ده، چې يقيناً دبنا او تزيين او رصانت له رويه د خراساني هنر يو شهکار دی.

دملي مشرانو په روزنه کې هم دافغاني مورسرې پروره لاس دو نې کار کړی دی چې دلته زه يوازې دخو تنو مشهورو مندو برخه په خو واقعو کې يادوم:

زموږ دوطن په تاريخ کې حاجي ميرويس خان هوتک دآزادۍ دلاري يو ملي قايد بلل کيږي. ميرويس په کندهار کې دپښتنو د ملي حکومت بنياد کښېښو ده، دپردو د غلامۍ ځنځير و نه يې وشلول، او اته کاله ئې په ملي توگه د خپل قوم رهنمايي وکړه ميرويس يو ملت ساز شخصيت و، د ده فکر دا ؤ، چې يو ملت جوړ کړي.

دميرويس دشخصيت په جوړولو کې دده مور نازو انا لويه برخه درلوده دې خپل زوی په داسې ډول وروزه، چې د لويو کارو دا نجام لپاره تيار سي. دې خپل زوی ته دا خبره وروښوو لې وه، چې په ملي ژوندانه کې لوی کار کوم دی؟ او څنگه بايد چې دی خپل قوم د پردو له جوغه څخه آزاد کاندې؟

داقصه دپټې خزانې مولف محمد هوتک داسې ليکلې ده:

«حاجي ميرخان چې وزير يدیء، مور ئې په ديانت او عبادت سره لوی کا.

...او هر کله به ئې ده ته نصیحت کا، چې زویه !
ستاپه مخ کې دی لوی کارونه ! نو چې لوی سې، دخدای
عبادت او دخلقو خدمت کړه!
ته خدای پیدا کړی یې، د دې دپاره چې لوی کارونه تر
سره کړې، او خلق الله په خدمت ستاآرام و کـا »

(پټه خزانه ۱۷۸ مخ)

وگوریء چې یوه افغانه مورخنگه دخپل زوی په زړه کې دخپل ملي تلقین اثر پر یږدی ؟ کله چې میرویس خان د خپل ملت مشر سو، ده دخپلې مور هغه وصیت نه وهېر کړی او محمد هوتک لیکی :

« حاجی میر خان علیین مکان به هر وقت ویل : چې
زماسو رماته د لویو کار ووصیت و کازه بایدهسی کارونه
و کړم .»

«چې په ۱۱۱۹ سنه هجري ئې قوم دظا لما نو له ظلمه وژغوره، نو ئې سجده
دشکر و کړه اووې ویل :

خدایه ! داهغه کارو، چې ماته مور سپارلی واو وصیت
ئې کړی و . داخوستادعبا دو او بندگانو خدمت و، چې ما
تر سره کا .» (پټه خزانه ۱۷۸ مخ)

نازو انادسلطان ملخي توخی لوروه، چې په ۱۰۶۱ ه کال زېږ یدلې وه، دا میر من لکه چې یوه سړی پر وره ښځه وه، دپښتو شا عره او عا لمه هم وه. او کله چې موږ دخپل ملت دآزادی تاریخ گورو، نو ددې میر منې ادې کارنامه کوم نسو هېر ولای .

زموږ په تاریخ کې یوه بله مور چې ننگیا لی زوی ئې پخپله غیږ کې روز لی دی زرغونه انادلوی احمد شاه بابا مور ده.

زرغونه هم یوه سرې پالونکې موروه، دې احمد شاه غوندي زوی خپل ملت ته وروزه، چې داوسنی افغانستان مؤسس دی.

زرغونې داحمدشاه لارښوونه او پالنه په داسې ډول کړې وه، چې ددې دونې لوی همت او عالی فکر خاوند سو، چې نه یوازې افغانستان بیاجوړکړي، بلکې ده دپښتنو زوړ تاریخ په هندوستان کې هم تجدید کړ، او یوه لویـه امپر- اتوري ئې په آسیا کې جوړه کړه.

کله چې احمد شاه د کندهار اوسنی ښار دخپل پایتخت په ډول جـوړاوه، پر دې ښار باندې ئې یوه محکمه کلا او گرزوله، او ددفاع لپاره ئې سنگرو- نه اوبرجونه هلته جوړول.

زرغونې خپل زوی ته وویل: «ښار جوړ که! مگر دلته دځان لپاره سنگر مه جوړوه!

دنیا پراخه ده، دپښتنو پاچهی تر بنگاله وه! ته باید جهان دخپل عدل او- احسان په رڼا روښانه کړې، نه چې د کندهار د کلا په مورچل کې ځان وساتې!»

دزرغونې دې خبرې احمدشاه دونې متاثر کړ، چې د افغانی زاړه عظمت د- تجدید په فکر کې ولوېد، او په دې لاره کې بریالی هم سو او داسې ئې وویل:

چې دهند دملکو فتحه سی روزی سوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

(احمدشاه بابا)

کله چې احمد شاهی لوی مملکت دده د لمسو په وخت کې ضعیف سو، او له- هری خوا اخطرونه پر راغلل.

دیوه لوی اختر په ورځ دهلمند دنادعلی په یو محکمه کلا کې تقریباً شل تنه تکړه ځوانان سره راغونډوو، ددوی مور «لوادې» نومېده، او دې مور داسې غښتلې او تکړه زلمی روزلی وو لکه وزیر فتح خان او امیر دوست محمد خان!

دابار کزیورونه دمملکت خطرناک حال ته ملتفت وو، دوی سلاسره کوله چی څهوکړو ؟لوادې راغله ،زامنوته یې وویل:

«له کشمیره تر هراته دالوی مملکت ستاسی همت ته گوری.

که ئې بل څوک نسی ساتلای ! تاسی ولاړسیء ،اوداممکت وساتیء !»

دانگریزانو او افغانانو پهلومړی‌جنگ کی ۱۸۳۹م‌دسردار پاینده خان‌یوهلور چی‌حلیمه نومېدهاو دخپل زوی پهنامه«دمد دخان مور» مشهوره وه ،داسی‌یوه عالی‌همته مېرمن وه ،چی قرآن په بغل کی به کورپه کورگرزېده،او خلک به ئې دپرنگی مقابلې ته تشویق کول.

موهن لال‌لیکلی ،چی دامېرمن موږ ډېره تعقیب کړه، مگرپه لاس‌نه‌راغله. دا له سرای خواجه څخه رهی سوه ،کورپه‌کور په ټول کوهستان کی‌ وگرزېده او ځوانان ئې‌دجنگ میدان ته راستول.او په دغه ډول دتگاواو نجراب له خوالغمان ته ولاړه او ټول خلک ئې جهاد ته تیارکړل.(دامیر دوست محمدخان ژوند)

داحلیمه دمددخان مورداميردوست محمدخان خوروه ،چی‌په ۱۲۸۲ه کال‌ په لغمان کی وفات سوه، قبرئې دمهترلمک په هدیره کی دی . او دا هغه افغانه‌موردهچی په‌یوه سر دانگریزانو په مخالفت کی ولاړهوه، او غازیان‌یې جنگ ته راستول.

په دی ډول زموږ په تاریخ کی داسی ډېرې مندی سته ، چی د احترام اویادولو اونمنځني‌وړدی.

دسیدال ناسر ملي او ادبي شخصیت

زموږ په ملي تاریخ کې مرحوم حاجي میرویس خان دازادۍ غوښتلو
دحرکت یو داسې ملي غورځنګ و چې هر افغان یې باید په افتخار ولولي او
په دې وپوهیږي چې زموږ خلکو دخپلې ملي آزادۍ دساتنې لپاره هروخت
په ګڼه څه قرباني ورکړې دي او داچې اوس موږ یو ازاد او خپلواک هیواد
لرو او دیوه واحد او نه بیلیدونکي وجود په څیر پخپل مملکت کې ژوندسره
کوو داد کومو رجالو او میړونو دسعی او مجاهدت نتیجه ده او څنګه باید چې ددوی نوم
او یادژوندی وساتو.

سیدال خان ناسر هغه افغان لوی سپه سالار و چې دحاجي میرویس خان په دفا-
عي جنګونو کې دمتجاوزو قواوو سره دپښتنو دلښکر قاید او لوی افسر او په وارو وارو
یې پردو تجاوزکوونکو لښکروته دکندهار او فراه تر منځ شکستونه ورکړل
او کله چې به دآزادۍ ساتنې دجنګ او دفاع وخت راغی نو به سیدال
خان دملي قواو و په تنظیم بوخت شو او دمتجاوزینو لښکر به یې داسې تاش په تاشه
کړ چې دوی به کورته کندهارته نسوای رارسیدلای او دسیدال خان دملي
قواوو له وخوابه پر لاري محوسوي وو.

زموږ دملي لښکرو دابریالي قوماندان داسې غښتلی او مدبر او زړه ورپښتون
وچې ملیون به تل پرده راتولیدل او دده په عسکري بولی به یې سرونه پر-

سیدان بایلل .دده شخصیت او تدبیر او قول وعمل دونی نافذ و چی تر ملی زعیم میرویس خان وروسته زموږ ملی کاروان دده په بېرغ حرکت کاوه او هم داسې وچی دارغنداو او هلمند پرغاړو به ئی داجانبویرغلگر و منظم او مسلح لوی لوی پوځونه محو کول او دافغان دازادۍ بیرغ به ئی تل جګ ساته.

سیدال خان یوازې دجنګ دمیدان فاتح او توریالی سپه سالار نه و بلکې دخلکو یو اجتماعی رهنما او ملی لارښوونکی هم وو دی دحاجی میرویس خان سره په اولسي جرګو کی دخلکو دیوه معتمد رهنما په ډول هم شامل واو دوحدت او یو والی هغه پیغام چی دمیرویس خان له خولی به راووت د سیدال خان او دده دملګرو په وسیله خلکو ته رسول کیده .

کله چی سرحوم میرویس بابا وفات سو نو دده مېړنی زوی شاه محمود دهوتک په کندهارکی پر تخت کښېنوست او سیدال خان دده د دربار غټ سپه سالار او حربی مشاورو .دلته افغانی دربار داخبره درک کړه چی دملت آزادي تل د غرب دیوې قوي او غښتلی پاچهی له خوا په خطر کی ده او که دغه خطر له لویه سره دفع نسی نو به تل افغانی مملکت له دغی خوا څخه ضررونه وینی او دافغانستان د خلکو پرآزادۍ باندې به ناحقه تعرضونه او تیری کیږي دلته نو افغانی مشرانو او ملی جرګی دا فیصله وکړه چی یوه ملی او کلکه قوه دافغانستان دټولو خلکو په ګډون تشکیل کاندي او د صفویانو له مرکزي حکومت سره دافغان دآزادۍ مقدرات په قطعی ډول وټاکی.

دافغانی ملیونو قواپه کندهارکی سره راغونډسول او دشاه محمود او سیدال خان په قیادت ئی د فراه او سیستان له لاری کرمان ونیو او بیائی په اصفهان کی دصفوي شاهانو لښکري قدرت له منځه ویوست او شاه محمود دافغان پادشاه داصفهان پر تخت کښیناست.

په دغه تاریخی بري کی دافغانستان خلک ټول برخه لري‌او په هغو لښکرو کی‌چی‌دسپه‌سالار سیدال خان‌په قیادت ئی اصفهان فتح کاوه دکندهار واروزگان‌او هزاره جات خلکو هم‌برخه‌درلوده‌او له‌نوروا فغانانوسره‌خټک پرخنګ‌د خپل مملکت‌دافتخارلپاره‌دسیدال خان ترقیادت لاندې جنګیدل.

سیدال‌خان دشاه اشرف‌هوتک سپه سالارهم ودهٔ دوولویودولتودلښکرو سره دافغانی سرحداتود ساتنی لپاره هم فاتحانه جنګونه وکړل‌دتزاری‌روس‌قوایې دایران دشمال پرسرحداتو ودروله اودعثما نی دولت پوځونه‌ئی‌پر غربی میدانو باندی مات کړل او کله چې د شاه اشرف افغان ترمرګ وروسته افغانی قواد نادرشاه افشار سره مخامخ سول نوبیا سیدال خان دایران‌په‌په‌ټولوجنګونو کې د افغانی قواوولوی مشراولښکري قایدو.

سیدال‌خان‌د جنګ په کاروا وتدبیرونوکی یوه نه‌ما تید ونکی‌اراده درلوده اوعزم ئی په هیڅ جنګ کی نه متزلزل کیده ده ترهغه وخته دنادرسره مقابله کوله چی دجنګ پرمیدان یوخوزلمی ورسره پاته ووااوبیانوراغی دکندهار په کلاکی له نادرسره یوکال او خومیاشتی په داسی میړانه او مهارت و جنګیده چی مو بږ ئی په خپل عسکري تاریخ کی نظیرډیر لږلرو.

دافغانانواخرنی مقاومت‌هم دنادرپه مقابل کی هغه وخت وچی سیدال‌خان دکلات په کلاکی دنادرافشار په لاس کښیووت اوهم دده په امرړوند کړسواوو روستنی عمرئی‌هم‌دکابل په شمالی خواشکردره کی‌دنفی‌په‌ډول تیر کی خو هم دلی وفات اوښخ سو.

اوس‌دوطن‌دآزادی ددې لوی مدافع او ساتونکی‌قدردانی‌کول اوهم دوطنی‌اوملی غیرت اوشهامت‌یادونه‌او پیروی‌هروطن‌خواه‌افغان‌ته‌ښایی‌او‌که موږ دخپلو تاریخی رجالوا ونامورانو د ښواعمالواوخدمتونو

ستا ینه کـو ونـودا بـه سـو ېدافغانستان خلک نن دژ و نـدانه یوه خورا مهمه دوره تیر و واو سوې دنوي ژوند انه او نوي تنظیم پر لوري روان یو ددې لارې د تللو او رهبرۍ لپاره ډېر وفعالو او صادقو او ترسره تیرو خـلـکو ته ضرورت لرو او دغسی رجال هم په قدر دانـی او ملـی حق بینی او تقدیر سترګه را ځی. که سوې د خپلو تیرو ملی سیړو قدرو کوو او سنی صادق خلک هم پخپل کار او فکري فعالیت کی حوصله او دـ لکرسی موسی نو ځکه زه دتاریخی رجالو یا دو نی او ستاینی ته په ښه نظر ګورم.

ادبی شخصیت :

دپښتنو په تاریخ کی دد ولسمی هجري پیړۍ لومړۍ برخه دیو ه ملی قیام او رستخیز دوره ده . په دغه وخت کی د پښتنو نامی پهلوان او لوی شاعر خوشحال خان مړ سو، او دده له اسفناک مرګه سره دلرې پـښتونخوا دننګیالیو پښتنو ملی جهاد دکورګانیانو دظالم او پردي حکومته سره ختم سو. مګر پښتنه ابی شنډه نه وه، په همدغه زمانه کی له برو پښتنو څخه یو بلـ میړه دهوتکو په درنه کورنۍ کی پیدا سو، چی کندهار یا نو حاجی میرخان باله. او داهغه درونداو آزاد یخوا او مدبر سپین ږیرۍ دی، چی اصلی نوم یی میرویس خان و . میرویس خان د کندهار په سیمو کی مشال بل کړ، هغه چی شل کاله مخکی خوشحال خان دلنډ ي او ابا سین پر غاړو روڼ کړی ؤ. هغه رڼا چی لږ وخت دمخه دا کوړې او ختکوا و یوسفزو پر سیمه او غرو ځلیدله اوس دار غنداو پر غاړو پر کندهار وځلیده، او د میرویس په رهنمایی او تدبیر د کندهار په تاریخی ښار کی دآزادۍ ګلګون بیرغونه ورپیدل.

دمیرویس خان دآزادۍ دجنګو او د هوتکو دکورنی یوتوریالی جنرالـ سیدال خان ناصر ؤ، چی له کندهاره تر هراته او اصفهانه دده دهمت او فتوحاـ تو او توري دځلامیدان ؤ.

دپښتنو دالوی جنرال او فاتح سپه سالار چې دهو تکو ددوړي ارت فتوحات دده په توره او سړانه سوي دي دتېرې توري او دلا وری سره یې دردمن زړه او بیناسترګی هم درلودې ،دپوهی او علم خاوند ؤ اود پټې خزانی دمؤلف په قول یې سروج عنوم ،لکه فقه، تفسیر ،فصاحت ،صرف ونحوا و پارسی کتب لوستلی وو.

زما سطلب په دې لیک کی دسیدال خان لښکري نبوغ او جنګی مأثر نه دي ،خو دونی باید ضرور وروایم ،چې دغه ناستواو سیړه جنرال په هرات او کندهار کی دوطن ددفاع او دپښتنو د عظمت له پاره ترد ې حده وجنګېده ،چې په پای کی د کلات په جنګ کی دنادر افشار په لاس و رغی ،او دهغه په حکم ړوند کړ سو ،او عمر یې د کابل په شکر دره کی تېر کی ء،او هم ددغه ځای دسیاه سنګ په هدیره کی ښخ دی.

و ایی د کوم انسان په فطرت کی چې دنبوغ او عبقر یت استعد ادوي ،نو که دغه داتلتوب لیاقت په یوه رنګ کی ښکاره نه سی په بل رنګ او صبغه خو ضرور ښکاره کیږي.

شاعري اصلاً یو نفیس او جمیل فن دی ،چې دانسان له فطري او جمالی استعداده راز یږي ،نو که یو سړی د دې هنر له پاره ختم کی تو منه لري.خو دظهور او تجلی له پاره یې مساعدچاپېر نه و موسی ،نو ښایی چې ددغه وړ تیا او لیاقت د ښرګندیدلو له پاره کو مه بله مساعده او سمه مجرا پیداسی ،او هم له هغی خوا د نبوغ او اتلتوب مظاهر ښرګند سی زموږ تو ریالی جنرال سیدال خان هم له دغو و تلو او ناستو انسانانو ښخه ؤ. چې دشعر له نفیس صنعته سره یې عسکري اتلتوب او نبوغ هم درلود، سیدال هم لوی جنرال ؤ هم ښه شاعر ؤ ،دپټې -- خزانی سولف مؤ محمد هو تک و ایی:

سیدال خان ناسر په هغه وخت چې په جنګ ګرفتار نه ؤ، نو به یې اشعار و یل، اودعشق سندرې به یې کښلی ، خوا وس په اصفها ن کی په مهماتو بوخت دی او د شعر و یلو فر صت یې نسته او و رځی په جنګو نو تیریږي چې رستم هم ځنې دار کا.

دسیدال له عسکري نبوغ او لیاقته سره دغه ادبي ذوق او نفیسه قریحه ډیره ښه ایسي دده دشعر ډیری نمونې موږ اوس نه لرو ، خو دپښتو خزانې دمؤلف په همت دده یوه ملي بدله گوتو ته راغلې ده.

دابدله دیوه ملي او خاص پښتووزم او شعري رنگ نمایندگي کوي او دهغو سپرو بدلو یوه ښکلې نمونه ده ، چې تر اوسه یې هم بدلچیان ، دکندهار په باغو ، او دسیوري او اتغر په سیمو کې په ټولنه او ښکلو خوندورو غونو وايي او زموږ دملي بدلو او کسرونو یو خاص ډول دی.

دمینې دنیا بیل رنگونه او ډول ډول مظاهر لري ، کوم وخت چې سړی په دغه کوخه کې قدم ږدي ، بیا تر هغه دمه چې دده لارې په کږو وږو پیچو مو رو ږدیږي ډیرې مراحل به طی کوي ، خو چې پای ته به هر څه دخپل یار په رنگ کېویني او تش به هم په ده مشغول وي ، مولوي بلخي دغه حال داسې څرگندوي :

اوست نشسته در نظر من بکجا نظر کنم

اوست گرفته شهر دل ، من به کجا سفر برم

سیدال خان دغه مقام ته دبدلې په کسر کې په فصاحت او خوږتوب ښه اشاره کوي :

یار ماله هسې گران سو

را ته تر ټول جهان سو

نور نه وینم په ستر گو

جهان ټول را ته جانان سو

ظاهراً له یوه عسکري سړي څخه دصوفیانو دتحقیقي مقام داسې بیان عجیب ښکاري مگر دفطرت دجمالي تشعشع تجلیات خو پر کایناتو عام دي ، او ښایي چې یوسپاهي هم دهغه په هغو سترگو وکړای سي ، لکه مدقق صوفي چې یې داشراق په برکت کوي !

دسیدال دبدلی لو سړی بندداسی شروع کیږي :

دوې زلفې دې او ږدې کړې
پر مخ دې راخپرې کړې

سرې اشرپې دې په تندي باندې سپرې کړې
گرځې په باغ کې په گلونو کې نخرې کړې

په اور دې وسوم یاره
راته او رتازه بوستان سو

په دې بند کې ښاغلی لوستونکی ته دیوې پښتنې معشوقې کړه وړه اودجمال مظاهر ښه ښکاري ، او دلته دیوه پښتانه توریالی او بریالی جنرال عاشقانه خبره خرگندیږي او دده شعر هغه رنگ سوسی چې بایدد پښتنی محیط او پښتنی تخیل نمایندگی وکړی او همهغسې وږغیږي، لکه یو پښتون چې ږغیږي.

په دوهم او دریم بند کې دعاشق حال او دزړه خوږهغه ډول تصویر کوي، هغه چې دشرقي ادب دتخیل او محاکات مشترک میراث دی ،دلته دوروځو لیندی او دبنو غیشې ضرور کار کوي ،او داخو هغه دزاړه حربی سیستم اثر و نه دي چې په شرقی ادب کې عموماً د تعبیرله پاره له هغو څخه کار اخلي ،ځکه چې په هغو وختو کې لانوري وسلې نه وې عامې سوې ،او دجنگ پر میدان به هر توریالی یا توره ځلوله ،او یا به یې غشې لیندۍ او ږوته اچولی وې او په هغوی به یې تېره غشې و یشتل ،نو شاعر به خپله معشوقه په هغووسلو مسلحه گڼله او په هغه وخت کې د شاعر وظیفه هم دغه وه ، چې د خپل محیط ترجمانی وکړي، اسااوس که څه هم داتم په زمانې کې یو ،خوزسوږ گرانه معشوقه له هغې کبرې لیندۍ او غشو څخه کاراخلي ،او دسین خراب زړه په هغو پخوانو وسلو ټپې کوي سیدال وایي:

مین چې اشنایي کا ـ شپه و ورځ به ګریاني کا
شهې ده ستمګاره، خوشحال زړونه به زخمي کا
لیندۍ لرې دوروځو، د بانوغشي کاري کا
مین په لویو غروځي
سرتورپه نیمو شپو ځي
وصال یې نصیب نه سو
ګوره زړه دې ک پـه ارمان سو

پخوا خو به مین دعشق په درداو سوز کی لیوني غوندې پرګو ښو ګرځیده او مخه به یې پر دښته او سار انیو لی وه‌او خاورې به‌یې هم پرسر با دولی، ګر دادجنون لوړمقام او سني بدبخت مین ته حاصل نه‌دی، ځکه‌چې او س ښا روته‌نژدې ګو ـ ښې ځا یونه او سارانه سوی پاته .نولې ښکلي اولوړې ماڼې سوې، و دانۍ او لارې هم ګرده‌په سمتو کلکې سوې بیچاره مین یو مو تې خاوره‌نسي پیدا کولای چې پرسر یې و پاشي، او که هم څوک داسې لیوني غوندې پر ګو ښو ګرځي‌او خاورې پرسر بادوي، نو یې ژر دارالمجانین ته بیایې ښاغلي دوکتو ربه یې‌دلیو ـ نتیا علاج‌و کي‌نو په‌دې‌او سني دنیا کي به‌څوک قدامت پسنداو د پخوانو افکا ـ روخاوند مین دښار په کوڅو کي ایله ګرځي، چې له ماښامه تر سهاره په‌خپلو آهو نو او غلبلو نو رخلک له خوبه و باسي، او آرام یې‌وران کي؟سیدال‌خان وایي:

نارې‌و هم دشپې‌تر صبحه سه
ناتوانه‌دبیلتون یم یو ګړۍ نه‌لرسه
بې تاسې نفس‌خیژي‌راځه‌زمادزړه‌همدمه
نظر په ساغر یب کړه
چې تاخون سې ستاپه‌ځان‌سو

مین په خپله ذهنی دنیا کی کله کله تشبیهات پیدا کوي، او غواړي چی دخپل زړه کړ-
او دعشق درد اوسوی د تشبیه په وسیله خلکو ته وښیي ځکه چی دغه بی
درده عالم خو دده دمین تابه کړ اوونه په دغوسادي ستر گونه وینی، نوځکه دی له استعا-
رې او تشبیه څخه کار اخلي سیدال وایی:

شبنم په گلو ښکاري
زړ ساو ښکی داری داری

خو ناب ځی ستاله غمه زما په مخ کی لاری لاری
تمامه شپه که تیره په ژړا په ناری ناری

ښکاره سوه چی مجنون یم
لیونتوب می اوس عیان سو

بوستان ښکلی زیبا دی
رنگین په او ښکو زمادی

دزړه پر هار گلگون دی چی بلبل په تماشادی
په سینه می زړه و چاودی عته وایې په خند ادی

نتلی د بیلتون یم
زه سیدال داسې بیان سو

دسیدال دشعر او شاعرۍ خوا د ده له حربی نبوغه او کمالا تو سره لبته
نه قیا سیږي ، مگر دا خو ضرور ښکاره کوي ،چی سیدال یوازی جگړن سپاهی
نه بلکې عالم ؤ ،شاعر ؤ دار ټ ذوق یی لاره ،او دده په دې بدله کی دادبی
لیاقته سره د موسیقیت طنا ن او خوځو نکی روح هم نغښا کوي ،او دابدله په-
داسې خوا ږه بږغ او ترنم و یله کیدای سی ،چی زموږ د ملی بږغو نوا و آهنگو
یوه خوند وره نمونه گڼله سي .نود سیدال په جنگی کرکتر کی موږدآرټ
او نفاست تجلیات هم دشعر او موسیقی په رنگ کی سوسو ،او زموږ دبریالی
جنرال د شخصیت یو بل ښکلی او د ستا یلووړ اړخ دی ، چی
دپښتنو ځینی نور جنگی نوابغ لکه پیرروښا ن، خوشحال خان ، احمد شا بابا
او شاه حسین یی څخه نه څه لری .

خوشحال خان دایډیالیزم او ریالیزم

پرېپېچومی

آیا دخوشحال هنر دهنر لپاره و، که دژوند لپاره؟

دایډیالیزم یعنی اصالت تصور او خیالیت ریښې دانسانانو په شاعری کی ډیری قدیمی دی، هر کله چی انسان لهخورا قدیمو زمانو څخه دفطرت په جذباتو او ولولو کی دخپلو پټو میلانو ترجمانی دشعر په ژبه وکړله هغوی اشعارو غیر مادی او روحانی او دعالم بالا څخه یو سنبع درلود، او شاعر دهغه غیر مشاهداو خیالی عالم استازی ګڼل کیدی.

دیونان قدیم اساطیر وائی چی آمفیون دجوپیتر زوی هغه میتا لوژیک شاعر او سندرغاړی ؤ چی دتب دښار په ودانو لو کی په ښه ږغ او سحرناکو نارو، خپل ارغنون واهه، او دی سند رو به داسی اثر درلود، چی کانی به چاودل، او شاعر ته بهئی راغستل، او ده به دکلاپه جوړولو کارول دجوپیتر لهلو نو څخه یوه (موس یا میوز) دشعر الهه وه، چی شاعرانو به دهغی دجلال او جمال لهلوړه عرشه الهام اخیست دشعر دخیالی رواياتو دغه لوړه افسانه ډیره پخوانی ده. خو په دی نژدو پیړیو کی امانویل کانت دجرمنی مشهور فیلسوف او محقق دایډیالیزم او خیالی شاعری مکتب په مرتب ډول وپرانست، دی وائی چی هنر او آرت پخپله مطلوب او بالذات مقصود دی نه دکوم بل

غایت لپاره داهغه نظر یه‌ده، چی آرټ دآرټ لپاره بو لی، او هغه په‌یو‌مجر د او غیر ما دی د ینا میزم پوری مر بوط گنی ،او وائی چی ددنیا انسانـان خـو په نژاد او جنس او و ینه او مذهب او مشرب کی‌سره مختلف دی ،مگر ددوی په‌شعر او آرټ کی یوډول وحدت او دمعانیو تجانس او دافکارو هارمونی شته ،او داخبره ثابتوی چی دانسانی آرټ منبع یوه آسما نی او رو حا نی‌مشتر که او واحده‌سر چینه ده ، زموږ شر قی مفکر ان‌اوشعر اءهم آرټ لره دجمال‌یو عالی او آسمانی غیبی منبع منی ، او مخصوصاً صوفیان خو بل څه نه‌و ینی او نه‌ئی منی . شیلر دجر منی یو آ ید یالست شاعردی ،دی دآرټ دغه الهی اوجمالی غیبی انتساب په یوه خور الطیفه او خوږه قطعه کی دا سی‌بیا نوی:

«لوی خدای خپلو بندگانو ته و و یل چي‌دا ټو له مځکه ستاسی ده،هر څوك دی خپله بر خه ځنی و اخلی. خلق ولا ړل ،دهقا نا نو او ز میندارانو مځکی او پټی و اخستل سو داگر انو پیسی او مالونه یو وړل ،ملایان‌په مزدکو کی کښیناستل کشیشانو گرجی و نیولی پاچهانو ملکونه‌او خزا نی واخیستی... دمځکی مال دولت وویشل سو، خو چی دشا عر وار ،ر اغی څه نه وه پاته ده پر خدای عرض و کړ: چی ای لو یه خدایه ! زه‌خوستا په مخلوقا تو کي تر ټولو رښتین یم خوڅه می نه وموندل، تش لاس پاته سوم خدای‌وو یل ته چیری‌وی ؟ خوخپله بر خه به‌دی وړه ! شاعر و و یل:لو یه خدایه! هغه وخت خو زه ستا دعرش په‌غولی کی گر زیدم تا ته می کتل ، ستا، کلام‌ته می‌غوږ ؤ زه‌په‌آسمانی‌میو مست و م‌مځکه‌می دمځکي‌نعمتو نه هیرسو ل......خدای وو یل : او س خو تاله په مځکه کی څه نسوه‌پاتی نوزه ستایم ته‌تل زما په درگاه کی اوسه ستا ځا ی د لته دی ، د لته » اسلا می عرفا هم لکه غربی مفکر ا ن ، دجمال اوآرټ مبدأ په یوه‌ماوراء لماده د نیا کی لټوی، او«مو لانا جلال الدین بلخی »هم دهغی غیبی دنیا په یادسندری‌وائی ا و خپل آرټ‌دهغی

معنوی او روحانی دنیا دیوه واړه انعکاس اثر ،او د هغی نړی دیادو لوسوزو گدازگنی :

بشنو ازنی چون حکایت میکند وزجدا ییهاشکایت میکند

کز نیستان تا مرا ببریده اند وز نفیرم مردو زن نالیده‌اند

(مثنوی مولوی)

هم دغه مقام دی‌چی داسلام لوی پوهنیال حجة‌ا لحق ابن سینای بلخی هغه ته‌اشاره کوی :

«هبطت الیك من‌المحل الاء رفع ورقاء ذات تعزز وتمنع»تاسی وگوری‌ء چی دآرت ایډیالی مبدأ قدیم یونان‌ا واروپاا و د اسلام د صوفی اومفکر شاعر ترمنځ مشترك دی ، کەڅه هم یونانی مبدأ فقط یوخرافی اومیتها لوژیک روایت دی ، او د جرمن شیلر هم تش خیال ځغلولی دی او اسلامی مفکرین هم‌له یوی داسی غیبی دنیاا وغیرمادی اونامحسوس لوړه مقامه گڼدی چی انسان هغه‌نه‌ولیدلی او نه ئی لیدلای سو ځکه چی هغه‌یو دملکوتی ماوراء المادە اومیتافزیکل دنیا ده ، خو بیاهم دغه فکر اودغی تیوری په قرنو قرنو دانسان پردماغ حکومت کړی دی او د آرټ هغه عالی مبدأ چی یوه یونانی ایډیالسټ فرض کوله هغه دبلخ اوقوانیی قلندرهم تصور کړی ده او کله چی صوفی پښتون شاعر رحمن بابا دشعرارغنون ږغوی ، نو دمولانا بلخی نیستان را په یاد وی ، او په هغومیوسست ښکاری له کومه جامه‌چی دیونان پخوانی شاعر یاد جرمنی پیاوړی سخنورسست ؤ، ایډیا لیزم وائی: آرټ خپله مقصداو هدف دی ، بل غرض نه‌لری ، دشعر، موسیقی نقاشی اونورو نفیسوصنایعو دالهام‌منبع «عالم غیب »دی .

خو داتول نفیس صنایع او دآرټ‌دونی ښانگی د ظهوراوخارجی تحقق لپاره له« عالم شهود»او‌ما دي محسوساتو څخه کاراخلي. تراوسه هم دانیسان

پوهنې او طبيعي علوسو ،ديوه آرتيست او فنكاردا حساسا تو او جذباتو لپاره كوم مادي اوطبيعي مقياس ندی كشف كړی نوځكه داصالت تصور او ايډياليزم طرفداران دآرټستيكي الهاماتو اوليا قتونو لپاره يوعالم غيب اوعرش الهی فرضوی . او آرټ دالهی جمال او غيبي ښكلا يوانعكاس اونما يندگي بولی ،او زمو ږصوفی شاعر شيخ متي خليل (كلا ت بابا) دغه مقصد په ځه ښه ښرگنده ژ به بيانوی :

پر لو يو غرو هم په دښتو كی — په‌لوی سهار په‌نيمو شپو كی

په غاړه ،ږغ ،او په‌شپيلكو كی — ياد و ير ژليو په شپيلو كی

ټول ستاد يادنارې سوری‌دی — داستاد مينې ننداری دی

خاوندہ ښكلی ستا جمال دی — ښكاره ئی لو ر په لور كمال دی

كه ورځ، كه شپه،كه پيړی كال‌دی — ستاد قدرت كمكي مثال‌دی

ستا د لو رونو يوه رڼا ده — دلته چی جوړه‌تما شا ده

